
# مالي زده کړه
# د چکینګ (ورځنی) یا سیوینګ (سپما) بانکي حساب پرانیستل

## د یو بانکي حساب له پرانیستلو مخکې ځان پوه کړئ چې کوم سندونو ته اړتیا لرئ او کومې پوښتنې لرئ.



د بانکي حساب د پرانیستلو لپاره بانک یا کریډیت (مالی اعتبار) اتحادیې ته له ټولو اړینو سندونو او معلوماتو سره تلل د وخت او پیسو په سپما کښې له تاسو سره مرسته کوي.

ډیری بانکونه اود مالي اعتبار اتحادي (کریډیت یونین) د بانکي حساب پرانیستلو لپاره د پیژندلو دوه ډوله سندونه درځخه غواړي. بعضې کیدای شي یواځې یو سند لکه (د دریوری لایسنس یا پاسپورت) او یو بل چې پکښې ستاسو نوم او پته لیکل شوی وي ومني. د حساب د پرنیستلو د تیاري بله برخه د شرایطو او مصرف په اړه پوهیدل دي. مخکې لدې چې کوم سند لاسلیک کړی خپلې تولې عمومي پوښتنې مطرح او ځواب ترلاسه کړی.

## باید څه وکړی

- **خپل سندونه غونډ کړی.** د حساب پرانیستلو لپاره سم پیژند پاڼې او سندونه تیار کړی.
- **د حساب پرانیستلو لپاره اړین اندازه پیسې له ځان سره راوړئ.** ډیری وخت د ورځني یا سپما (چکنیګ یا سیفینګ) حساب پرانیستلو لپاره ۲۵ تر ۱۰۰ ډالرو ته اړتیا لرئ. بعضې بانکونه او کریډیت اتحادیې ۵ ډالر غواړي او بعضې د حساب پرانیسلو لپاره پیسې جمع کول اړین نه بولي.
- **ټول رینښتیني معلومات ترلاسه کړی.** په آنلاین توګه یا بانک او کریدت اتحادیې سره تماس ونیسئ او د خپلو ټولو پوښتنو ته ځواب ترلاسه کړی. د بانکي حساب د ځرنګوالي او اړونده فیس په اړه ځان پوه او ډاډه کړی.

## د ورځنی یا سپما (چکینګ یا سیفینګ) بانکي حساب له پرانیستلوځخه مخکې اړین شیان راغونډ او تیار کړی

1. د بانکي حساب پرانیستو لپاره ټول اړین مواد مرور، راټول کړی. خپل ټولې پوښتنې ولیکئ.
2. خپلو ټولو پوښتنو ته ځواب ترلاسه کړی، په شرایطو، مصرفونو او د بانکي حساب محدودیتونو باندې ځان پوه کړی.

| د یو بانکي حساب پرانیستلو لپاره کومو شیانو ته اړتیا ده | زما پوښتنې |
|---|---|
| ☐ د اړوند ایالت درکړل شوې تذکره، یا د متحده ایالاتو یا بهرني هیواد پېژند پاڼه چې ستاسې عکس ولري (له بانک یا کریډیټ اتحادیې څخه وپوښتئ چې د بهرني هیواد کومې پېژند پاڼې هغوی ته د منلو وړ دي) | |
| ☐ د دوهم سند په توګه له لاندې سندونو څخه یو.<br>• سوشیل سیکیوریټي کارت<br>• د زېږند پاڼه (د زېږېدنې سند)<br>• هغه بیل یا رسید چې ستاسې نوم او پته پکښې ذکر شوي وي. | |
| ☐ د دوهم سند په توګه له لاندې سندونو څخه یو.<br>سوشیل سیکیوریټي کارت<br>د زېږند پاڼه (د زېږېدنې سند)<br>هغه بیل یا رسید چې ستاسې نوم او پته پکښې ذکر شوي وي. | |
| ☐ .نغدې پیسې تڅو په حساب کښې اضافه شي | |

| هغه پوښتنې چې بانک یا کریډیټ اتحادیې څخه وپوښتل شي | ځوابونه |
|---|---|
| ☐ آیا میاشتنۍ فیس لري؟ که هو، فیس څومره دی، آیا کیدای شي لغو یا لرې شي؟ | |
| ☐ په مستقیمه یا برېښنایې توګه په حساب کښې د پیسو اضافه کول شوني دي؟ | |
| ☐ آیا د چک بوک لپاره لګښت یا فیس ورکول کیږي؟ | |
| ☐ د چک اجرا کول یا بانکي معامله لګښت لري؟ | |
| ☐ ا د هوسایني لپاره زما د استوګنې، کار یا د توکو/سودا پلورلنځي ته نېږدې د اِې ټي اِم (پیسو ورکړې ماشینونه) شته دي؟ | |
| ☐ آیا آنلاین یا انټرنېټي بانکي آسانتیاوې شته دي او لګښت لري؟ | |
| ☐ آیا په آنلاین توګه د بیلونو د تادیې خدمات لري؟ او لګښت یې څومره دی؟ | |

| هغه پوښتنې چې بانک یا کریډیټ اتحادیې څخه وپوښتل شي | ځوابونه |
| --- | --- |
| ☐ کچېرې زه په بانکي حساب کې له شته اندازې څخه ډېرې پیسې واخلم یا مصرف کړم څه پېښېږي؟ | |
| ☐ آیا په حساب کښې له ټاکلې اندازې څخه د پیسو د کمیدلو په صورت کښې ماته خبر راکول کیږي؟ | |
| ☐ په بانکي حساب کښې د شته پیسو څخه ماته سود راکول کیږي؟ د سود سلنه یا فیصدي څومره ده؟ | |